## د شرعي حجاب اړوند لنډه توضيحي او تطبيقي طرحه

بسم الله الرحمن الرحيم

سره له دې چې زياته موده د هېواد په کچه د ښځو د بې حجابه کولو په موخه په پرلپسې او منظم ډول پروګرامونه په کار اچول شوي وو، بيا هم له نېکه مرغه په سلو کې تقريبا (۹۹) نهه نوي فيصده د جهاد پروره ملت غيرتمندې مېرمنې حجاب د شرعي اصل او افغاني پتمن دود په توګه رعايت کوي، پاتې نورې دې هم چون هېڅ عذر او موانع وجود نه لري، دغه شرعي واجب حکم مراعات کړي.

**د حجاب حکم:**

- د مسلمانو اصيلو، بالغو ښځو لپاره شرعي حجاب رعايت کول فرض او ضروري دي.

**د حجاب تعريف:**

- بدن چې په هره جامه پټ کړل شي حجاب ګڼل کېږي، خو چې باريکه نه وي چې بدن ترې ښکاري او دومره تنګه نه وي چې د بدن د غړو نمايندګي کوي.

**د حجاب ډولونه:**

- چادري چې په هېواد کې له پېړيو را په دېخوا د افغاني باعزته کلتور برخه ده، د شرعي حجاب بهترين ډول دی.
- د حجاب په نوم مروجه تور رنګه جامه او څادر هم شرعي حجاب دی، چې تنګ او چسپ نه وي.
- له کور څخه بې موجبه نه وتل د شرعي حجاب د رعايت لومړی او بهترينه ېنه ده.

**د حجاب د رعايت موارد:**

- هغه ښځينه چې د عمر په لحاظ زړې يا ورې نه وي له نامحرمو نارينه وو سره د مخامخ کېدو په مهال به د فتنې له امله د شرعي هداياتو مطابق له سترګو پرته خپل مخ ضرور پټوي.

**د حجاب د رعايت ګټې:**

- ✓ شرعي حجاب د الله تعالی امر او رعايت کول يې د هغه د امر اطاعت دی.
- ✓ حجاب د مسلمانو او اصيلو ښځو امتياز دی.
- ✓ باپرده مېرمنې له نافرمانۍ او ګناه څخه په امن وي.
- ✓ له عزت او وقار څخه برخمنې وي.
- ✓ د مفسدينو له شر او فساد څخه خوندي وي.
- ✓ د فتنه اچوونکو اشخاصو او کړيو د دسيسو په آسانه نه ښکارکېږي.

**د حجاب د تطبيق طريقه او مراحل:**

**(۱): ترغيب:**

- ○ د رسنيو او منبرونو له لارې د حجاب حکم، اهميت او ګټې او د بې حجابۍ زيانونه بيانول.
- ○ په بازارونو، پارکونو، او عمومي مواردو کې د حجاب په هکله ترغيبي جملو ليکل او اړونده ستيکرونه لګول.

**(۲): تنبيه او ترهيب:**

- د بې حجابه مېرمنې دې په لومړي ځل کور په نښه کړل شي د هغې ولي ته دې توصيه وشي او تنبيه دې کړل شي.
- په دويم ځل دې ولي اړونده رياست ته احضار کړل شي.
- په دريم ځل دې يې ولي درې ورځې حبس کړل شي.
- په څلورم ځل دې يې ولي محاکمو ته وسپارل شي تر څو په مناسبه سزا محکوم کړل شي.
- هغه مېرمنې چې د امارت اړونده ارګانونو کې فعاليت کوي او حجاب نه رعايت کوي، له دندې دې ګوښه کړل شي.
- که د حکومتي مامورينو او منسوبينو مېرمنې او لوڼې حجاب نه رعايت کوي دندې به يې تعليق کېږي.

**توظيف هيئت:**

۱) شيخ مولوی محمد خالد حنفی صاحب، د هيئت مشر.
۲) شيخ مولوی عبد الحکيم صاحب، عضو.
۳) شيخ مولوي نور محمد ثاقب صاحب، عضو.
٤) شيخ مولوی شهاب الدين دلاور صاحب، عضو.
٥) شيخ مولوی فريد الدين محمود صاحب، عضو.
٦) شيخ مولوی نور الله منير صاحب، عضو.
۷) شيخ مولوي نور الحق انور صاحب، عضو.